## وزارت امورمهاجرین وعودت کنندگان

## د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت

### د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

# خبرپاڼه خبر نامه

**3عقرب _سال 1402**





# اخبار مهم

افغانستان - منطقه - جهان

## فهرست مطالب


عنوان صفحه

د مهاجرينو چارو وزارت د مسلکي مرستيال په مشرۍ د جبري راستنېدونکو د استوګنې د موقتي کمېټې ناسته د قندهار ولايت د اجرايوي کمېټې سره تر سره شوه ---------------------------------------------------------------------------- 1

دوموسسه،تفاهمنامه همکاری را با وزارت امور مهاجرین امضا کرد--------------------------------------------------- 1

د پاکستان څخه له ۵ زرو زيات افغان مهاجر وطن ته راستانه شول--------------------------------------------------- 2

بیش از سه هزار نفر مهاجر از ایران به کشور عودت نمودند ----------------------------------------------------------- 3

د هېواد په ولايتونو کې سلګونه کورنۍ د نغدي مرستو څخه برخمنې شوې----------------------------------------- 4

انګلیس کانال: د فرانسې په سواحلو کې تر ۱۵۰ ډېر کډوال ژغورل شوي --------------------------------------------- 5

سویس: د کډوالو ضد ګوند پارلماني ټاکنو کې ډېرې رایې وګټلې------------------------------------------------------ 6

سویډن غواړي ټولنیزو مرستو ته د غیر اروپايي کډوالو لاسرسی محدود کړي ---------------------------------------------- 8

یک سگ پولیس در چک یک کودک مهاجر را زخمی کرد--------------------------------------------------------------- 9

سویدن: سخت‌تر شدن دسترسی مهاجران غیراروپایی به خدمات اجتماعی ------------------------------------------- 11

آلمان: میزان مهاجرت در ماه سپتمبر از ۲۰۱۶ تا به حال بی‌سابقه بوده است ------------------------------------- 12

وزیر داخله آلمان: پناهجویان رد شده سریعتر اخراج خواهند شد --------------------------------------------------- 14

خبرنامه

# متن کامل اخبار

## د مهاجرینو چارو وزارت د مسلکي مرستیال په مشرۍ د جبري راستنېدونکو  د استوګني د موقتي کمېټي ناسته د قندهار ولایت د اجرایوي کمېټي سره  تر سره شوه

د وزارت ویب سایت



**د مهاجرینو چارو وزارت د مسلکي مرستیال او د جبري راستنېدونکو د استوګنې د موقتي کمېټې رئیس مولوي عبدالرحمن راشد د قدهار ولایت په سپین بولدک کې د اجرایوي کمېټې سره ناسته وکړه.**
**په دې ناسته کې د قندهار ولایتي اجرایوي کمېټې مسؤلینو د سپین بولدک د صفري نقطې تر څېرمه د انتظار خونې او تشنابونو د جوړېدو، د تخته پول ولسوالۍ کې د موقتي کمپ د جوړېدو او په دغه ولایت کې د راستنېدونکو د وضعیت په اړه معلومات ورکړل او د حل په موخه یې خپل وړاندیزونه وړاندې کړل.**
**د جبري راستېدونکو د استوګنې موقتې کمېټې په یاده سیمه کې د انتظارګاه، تشنابونو او د موقتي کمپ د جوړېدو د کار پر چټکتیا ټینګار وکړ او د مطرح شوو ستونزو د حل ډاډ یې ورکړ.**
**د مهاجرینو چارو وزارت د مسلکي مرستیال مولوي عبدالرحمن راشد په مشرۍ د جبري راستنېدونکو د استوګنې موقته کمېټه  پېښنو ته د رسېدو په چارو کې د دولت، د کرنې اوبو لګولو او مالدارۍ، د کلیو پراختیا او د روغتیا وزارتونو او افغان سرې میاشتې مرستیالانو د ریاست الوزرا د مقام د لار ښوونې پر بنسټ د اجباري راستنېدونکو وضعیت ته د رسېدو له پاره ټاکل شوې دي.**

## دوموسسه،تفاهمنامه همکاری را با وزارت امور مهاجرین امضا کرد

ویب سایت وزارت



**دو تفاهم نامه همکاری میان وزارت امور مهاجرین و موسسات اداره انکشاف و باز سازی برای افغانستان و رفاه اجتماعی راه رهنورد به امضا رسید.**

**به اساس تفاهم نامه های یاد شده، نهاد رفاه اجتماعی راه رهنورد مبلغ یک صدو 95 هزار و810 دالر را در بخش آموزش فنی و حرفوی سبزخانه ها، پروسس میوه، خیاطی، باغچه های کوچک، حمایت تجارت های کوچک و کمک نقدی برای 490 خانواده در ولایت هرات، و موسسه اداره انکشاف و باز سازی برای افغانستان مبلغ یک صدو 90 هزار و 582 دالر را در بخش آگاهی دهی در مورد تذکره، کارت تولد، کارت فوتی، اسناد مدنی و توزیع پول نقد برای 9 هزار و 300 خانواده در ولایات لغمان و هلمند بمصرف میرسانند.**

**تفاهم نامه های یاد شده توسط مولوی محمود الحق احدی رییس پالیسی و پلان و سرپرست معینیت مسلکی وزارت امور مهاجرین و نماینده های موسسات یاد شده به امضا رسید.**

## د پاکستان څخه له ۵ زرو زیات افغان مهاجر وطن ته راستانه شول

د وزارت ویب سایت

**دننگرهار ولایت د تورخم او د قندهار ولایت د سپین بولدک له لارې د پاکستان څخه ۵ زره او ۱۹۶ تنه افغان مهاجر د لېږم په لومړۍ نېټه هېواد ته راستانه شول.**



Website: https://morr.gov.af

Twitter: https://twitter.com/MoRRAfg

Facebook: https://www.facebook.com/morr.gov.af2

**د ننګرهار ولایت د تورخم او د قندهار ولایت د سپین بولدک د مهاجرینو چارو د آمر د معلوماتو له مخې ۶۷۶ کورنی، چې ۴ زره او ۶ تنه کېږي د تورخم له لارې هېواد ته راستنې شوې او ۲۰۹ نورې راستنېدونکې کورنی چې یو زرو او ۱۰۹ تنه کېږي د سپین بولدک له لارې هېواد ته راستنې شوې دي.**

**سرچینې زیاتوي، چې راستنېدونکې د مهاجرینو چارو ادارې کې د نوملیکنې وروسته د مرستو د تر لاسه کولو په موخه د مهاجرت نړیوال سازمان او د ملګرو ملتونو د کډوالو ادارې ته ور پېژندل شوي دي.**

## بیش از سه هزار نفر مهاجر از ایران به کشور عودت نمودند

ویب سایت وزارت



سه هزار و 310 نفر افغان مهاجر به تاریخ اول عقرب طور جبری و داوطلبانه از ایران به وطن برگشته اند.

به گفته آمر سرحدی اسلام قلعه، از جمله افراد مذکور که شامل خانواده ها و مجردین بودند، 344 نفرآنها نیازمند وآسیب پذیر تشخیص و غرض اخذ کمک، به دفترسازمان بین المللی مهاجرت معرفی و مواد غذایی و غیر غذایی را بدست آوردند

## د هېواد په ولایتونو کې سلګونه کورنۍ د نغدي مرستو څخه برخمني شوې

د وزارت ویب سایت




په هرات، سمنګان، او پروان ولایتونو کې د مهاجرینو چارو وزارت د دویمي واحدونو له لارې له ۹۱۵ کورنیو سره د لږم په لومړۍ نېټه مرستې شوې.

**د یادو ولایتونو د مهاجرینو چارو ریاستونو د معلوماتو پر بنسټ د یادو کورنیو له ډلې په هرات ولایت کې ۴۷ زلزله ځپلو کورنیو سره د ډنمارک د مهاجرینو ټولنې په مالي مرسته ۱۲ زره او ۴۰۰ افغانۍ، په پروان کې ۲۰ کورنیو هرې کورنۍ ته د مرستو د همغږۍ مؤسسې په مالي مرسته او په سمنګان کې د اکشن ایډ مؤسسې په مالي مرسته ۴۱۸ کورنیو هرې کورنۍ ته ۱۲ زره او ۸۵۰ افغانۍ د یادو ولایتونو د مهاجرینو چارو ریاستونو تر څارنې لاندې وېشل شوې دي.**

## انګلیس کانال: د فرانسې په سواحلو کې تر ۱۵۰ ډېر کډوال ژغورل شوي

مهاجرنیوز



**د فرانسې په شمالي سواحلو کې د دوشنبې په ورځ تر ۱۵۰ زیات کډوال ژغورل شوي دي. دغو کډوالو هڅه درلوده چې د انګلیس کانال له لارې ځانونه برېتانیا ته ورسوي.**

**د له وا دو نور ورځپاڼې د خبر له مخې، که څه هم امنیتي ځواکونو د اکتوبر په ۲۳مه کالې ښار ته نږدې سنګات ساحل کې د یو شمېر مهاجرو مخه ونیوله، خو یوه بېړۍ چې شاوخوا ۴۰ تنه کډوال پکې سپاره ول اوبو ته دننه شوه. ورځپاڼه زیاتوي چې یو شمېر کډوالو د ژغورنې واسکټونه اغوستي وو او پاتې نورو بیا هڅه کوله چې د پولیسو تر سترګو لاندې کښتۍ ته پورته شي.**

**څو ساعته وروسته د فرانسې سمندري ځواکونو له انګلیس کانال څخه یوه کښتۍ وژغورله چې ۴۱ کډوال یې لېږدول. تر اوسه دا څرګنده نه ده چې ایا دا هماغه سهارنۍ کښتۍ ده که نه.**



**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook***: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*

**بل پلو د مانش او شمالي سمندر قومندانۍ د یوې خبرپاڼې په خپرولو سره ویلي دي چې د دوشنبې په سهار یې د سنګات په ساحلي اوبو کې نږدې ۵۰ کسان ژغورلي دي. په خبرپاڼه کې راغلي دي چې په کښتۍ کې سپرو ۸ نور کډوالو خپل مسیر ته ادامه ورکړه، خو څو ساعته وروسته د فرانسوي ځواکونو له خوا وژغورل شول.**

**د یو بل خبر له مخې، د فرانسې په ویمرو ساحل کې د دوشنبې په ورځ د څلورو ماشومانو په ګډون چې له ۲ څخه تر ۱۳ کاله عمرونه یې درلودل ۱۴ کسان ژغورل شوي دي. دغو کسانو چې لمدې جامې یې درلودې غوښتل د سمندر له لارې ځانونه برېتانیا ته ورسوي، خو بریالي نه شول. یادو کډوالو ته د چارواکو له خوا وچ کالي ورکړل شوي دي.**

**همدارنګه د وینسان په ساحلي اوبو کې ۱۲ کډوال ژغورل شوي چې د بدن د تودوخې درجه یې ټیټه شوې وه. په ژغورل شویو کې یوه مېندواره لیبیایۍ هم شامله وه چې له خپلو ۳ او ۵ کلنو ماشومانو سره د کالې روغتون ته یووړل شوه.**

**د یادولو ده چې د ګري نې د ژغورنې او نظارت سیمه ایز عملیاتي مرکز د یکشنبې په شپه هم ګرېولین ساحل کې شاوخوا ۳۰ کسان ژغورلي وو. په دغه کښتۍ کې ۱۴ تنه نور کډوال هم سپاره ول چې غوښتل یې خپل سفر ته ادامه ورکړي، خو یو ساعت وروسته یې له چارواکو څخه د مرستې غوښتنه وکړه.**

**»نور د وضعیت د مدیریت توان نه لرو«**

**د سختو امنیتي تدابیرو سربېره هر کال ګڼ شمېر کډوال هڅه کوي چې د انګلیس کانال له لارې ځانونه برېتانیا ته ورسوي. فرانسوي چارواکو د اکتوبر په ۱۶مه ویلي وو چې د اپال په ساحلي اوبو کې یې ۱۵۰ کډوال ژغورلي دي. د برېتانیا د کورنیو چارو وزارت په وینا، په همدغه نېټه په ۶ کښتیو کې سپاره ۸۵ تنه نور د برېتانیا سواحلو ته ورسېدل.**

**بیا ولولئ :<u>له سوېلي سواحلو څخه برېتانیا ته د اوښتو هڅې</u>**

**ډېری کډوال د انګلیس کانال له لارې برېتانیا ته د تګ مخکې د فرانسې د شمالي سیمې په کمپونو کې شپې سبا کوي. خو دغه کمپونه په منظمه توګه د امنیتي ځواکونو له خوا تړل کېږي کیږي. فرانسوي چارواکو د اکتوبر په ۱۹مه دنکرک ښار ته نږدې <u>د لون پلژ له مهاجر کمپ څخه ۲۰۰۰ کډوال وایستل.</u>**

**ګراند سېنت کې د یوتوپیا ۵۶ سازمان همغږۍ کوونکې امیلي مویار په وینا، په تېرو څو اونیو کې دنکرک کې د کډوالو وضعیت د پخوا په پرتله خراب شوی دی. نوموړې څو ورځې مخکې کډوال نیوز سره خبرو کې ویلي وو: «هره ورځ نوي کسان دلته راځي. موږ نور د وضعیت د مدیریت توان نه لرو. د هوا سړې څپې را رسېدو سره وضعیت نور هم پېچلی شوی دی«.**

## سویس: د کډوالو ضد ګوند پارلماني ټاکنو کې ډېرې رایې وګټلې

مهاجرنیوز



**د سویس په پارلماني ټاکنو کې د یکشنبې په ورځ د یو دي سي په نوم د ښي اړخي ګوند ډېرې رایې وګټلې. یو دي سي د ټاکنیز کمپاین پر مهال له «ډله ایزې کډوالۍ» سره مبارزه خپل مهم لومړیتوب بللی و .**

**د سویس په پارلماني ټاکنو کې چې د یکشنبې په ورځ د اکتوبر په ۲۲مه ترسره شوې د یو دي سي په نوم پوپولیست ګوند زیاتې رایې وګټلې. د شمېرل شویو رایو د پایلو له مخې، یو دي سي چې د کډوالۍ پر وړاندې سخت سیاست لري ۲۸،۵۵ سلنه او ورپسې بیا سوسیالستانو ۱۷ سلنه رایې ترلاسه کړې.**

**یو دي سي د ټاکنیز کمپاین پر مهال له «ډله ایز مهاجرت» سره مبارزه خپل لومړیتوب بللی و. د دغه ګوند د رهبرۍ په حواله، سویس کې د کډوالو پراخې څپې د جرمونو د ډېرېدو، د ټولنیزو لګښتونو د لوړېدو او د برېښنا د مصرف د زیاتېدو لامل شوې دي.**

**د یو دي سي د پارلماني ډلې مشر توما اشي د یکشنبې په ورځ وویل: «سویس کې وضعیت ډېر خراب دی، موږ له ډله ایز مهاجرت سره مخ یو، له هغو کسانو سره چې [دلته] د پناه غوښتنه کوي جدي مشکل لرو. امنیتي وضعیت د پخوا په شان نه دی.» نوموړي زیاته کړه چې په سویس کې زیات شمېر کسان وېره لري چې وضعیت به نور هم خراب شي.**

**بیا ولولئ :<u>سویس کې د پناه غوښتونکو ډېرېدل: دغه هېواد د «یو ان اچ سي آر» له خوا نور پناه غوښتونکي نه ثبتوي</u>**

**»سویس نور د مهاجرو د منلو ظرفیت نه لري«**

**د <u>ټان</u> ورځپاڼې د یوې نظرپوښتنې پایلې چې د اکتوبر په نیمایي کې ترسره شوې ښیي چې د سویس ۴۱ سلنه وګړي د کډوالۍ د څپو اړه اندېښمن دي، خو پاتې ۴۹ سلنه نور بیا وایي چې د کډوالۍ د مدیریت لپاره د اروپا په کچه حل لارې ته اړتیا شته.**

یو دي سي چې د اروپايي ټولنې پر سياستونو نيوکه کوي وايي چې د ملي حاکميت د ساتلو په شرط له دوه اړخيزونو تړونونو سره موافقه ده.

سويس د اروپايي ټولنې غړيتوب نه لري، خو د شېنګن تړون او د دوبلين مقررات يې لاسليک کړي دي.

د يو دي سي ګوند مرستيالې سلين امودروز ټان ورځپاڼې سره خبرو کې ويلي دي چې سويس نور د مهاجرو د منلو ظرفيت نه لري. د يادولو ده چې په ۲۰۲۲ کې ۲۴۵۱۱ کسانو په سويس کې د پناه غوښتنه کړې وه، حال دا چې په فرانسه کې ۱۳۱۲۵۴ او په المان کې بيا ۲۴۵۰۰۰ دوسيې ثبت شوې وې .

## سويډن غواړي ټولنيزو مرستو ته د غير اروپايي کډوالو لاسرسی محدود کړي

مهاجرنيوز




د سويډن ايتلافي حکومت د جمعې په ورځ اعلان وکړ چې غواړي ټولنيزو مرستو ته د غير اروپايي کډوالو لاسرسی محدود کړي. چارواکو د دې اقدام دليل په دغه هېواد کې د کډوالو ناکام ادغام ښودلی دی .

سويډن چې يو وخت د کډوالۍ او ادغام هېواد بلل کېده د مهاجرو پر وړاندې سخت سياست غوره کړی. د سويډن ايتلافي حکومت د جمعې په ورځ د اکتوبر په ۲۰مه اعلان وکړ چې ټولنيزو مرستو ته د غير اروپايي کډوالو لاسرسی محدودوي. د اولف کريسترسون په مشرۍ حکومت واک ته له رسېدو مخکې ژمنه کړې وه چې د کډوالۍ او د جرمونو کچه به راکمه کړي.

**بیا ولولئ :سویډن غواړي چې د رد شویو پناه غوښتونکو پر وړاندې تدابیر سخت کړي**

**والف کریسترسون او د درې ګوندیز ایتلاف مشرانو داګنز نیهتر ورځپاڼه کې لیکلي دي چې له ۲۰۱۲ راهیسې شاوخوا ۷۷۰ زره غیر اروپایي مهاجر کسان سویډن ته کډه شوي دي. دوی زیاته کړې ده چې «د ادغام له داسې پالیسۍ سره یو ځای چې اجرایي ضمانت نه لري او دا چې کډوال ټولنه کې ادغام کېدو ته نه هڅول کیږي، دغه لوی مهاجرت سویډن په دوو برخو وېشلی دی.«**

**د نوموړو مشرانو په وینا، سویډن کې یو شمېر خلک له «بېلتانه، تجرید، بې کارۍ، په ښوونځي کې خرابو نتایجو او د سویډن د ارښتونو له نشتوالي» څخه رنځ وړي. دغو چارواکو ویلي دي چې بهر کې له زیږېدلو کسانو سره «مهمې ستونزې» موجودې دي ځکه هغوی بې کاره دي او د دولت په لګښت خپل ژوند مخ ته بیایي.**

**د سویډن حکومت غواړي د ټولنیزو مرستو په محدودولو سره کډوال دې ته اړ کړي چې ځان ته کار ومومي او سویډني ژبه زده کړي.**

**د کډوالو شمېر کې کموالی**

**چارواکو د دې اقدام موخه د نویو کډوالو د ورتګ مخنیوی او ټولنه کې د موجودو کډوالو ادغام ښودلی دی. په لیکنه کې راغلي دي چې د روان کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د تېر کال د همدې مودې په پرتله سویډن کې د پناه غوښتونکو شمېر ۲۶ سلنه کم شوی دی. دا په داسې حال کې ده چې په همدغه موده کې اروپایي ټولنه کې د پناه غوښتونکو شمېر شاوخوا یو میلیون ته لوړ شوی دی.**

**د ۱۹۹۰ کلونو پر مهال سویډن یو له هغو اروپایي هېوادونو څخه و چې د یوګوسلاویا، افغانستان، سومالیا او ایران زیات کډوال یې منلي وو. همدارنګه په ۲۰۱۵ کې تر ۱۵۰ زره زیات کډوال د سویډن له خوا منل شوي وو چې ډېری یې سوریایان وو. خو اوس لیدل کیږي چې د کډوالو پر وړاندې د دغه هېواد په سیاست کې بدلون راغلی دی .**

## یک سگ پولیس در چک یک کودک مهاجر را زخمی کرد

مهاجرنیوز




**در ضمن گزمه پولیس در مرز با اسلواکیا یک سگ پولیس به یک کودک چهارساله مهاجر حمله کرده و او را به شدت زخمی کرده است. به گفته پولیس کودک به سرعت به شفاخانه انتقال داده شده است.**

**یک سخنگوی پولیس چک روز دوشنبه گفت، یک موتر گزمه پولیس در نزدیک لنژهوت که در مرز با اسلواکیا قرار دارد، یک واسطه نقلیه حامل مهاجران را متوقف کرده است. بنا به گفته های او در طی تعقیب ردپای یک قاچاقبر مظنون که در حال فرار بوده است، سگ پولیس به یک محرک ناگهانی و بیرونی به صورت غیرمنتظره واکنش نشان داده است.**

**سخنگوی پولیس در ادامه گفت که ماموران پولیس فورا به کمک کودک شتافته اند و کمک های اولیه را انجام داده‌اند. یک تیم مداخله در بحران، سرپرستی از خانواده این دختر کوچک را برعهده گرفته است و یک واحد دیگر پولیس تحقیقات درباره این رویداد را آغاز کرده است.**

**بیشتر بخوانید :یک موتر قاچاقبران با ۴۱ پناهجو به دست پولیس جمهوری چک افتاد**

**بنا به گزارش روزنامه «پراوو» این سگ، صورت این کودک چهارساله کُرد را دندان گرفته است. این کودک سپس با هلیکوپتر به یک کلینیک کودکان در برنو انتقال داده شده است.**

**چک در راستای مبارزه با قاچاقبران، از ماه اکتوبر کنترول موقت اشخاص در مرز با اسلواکیا را آغاز کرد. این اقدام اخیرا تا تاریخ ۲ نومبر تمدید شده‌است.**

**طبق اطلاعات حکومت در پراگ، افزون بر اینکه سال گذشته در سراسر کشور ۲۴۸ قاچاقبر مظنون بازداشت شدند، اما شمار آنها در سال روان به بیش از ۳۴۰ تن رسیده است.**

## سویدن: سخت‌تر شدن دسترسی مهاجران غیراروپایی به خدمات اجتماعی

مهاجرنیوز




**سویدن می‌خواهد دسترسی مهاجران غیراروپایی به خدمات اجتماعی را سخت‌تر کند. از دهه ۱۹۹۰، این کشور با ۱۰،۳ میلیون تن جمعیت، افراد زیادی را از کشورهای بحران زده مانند یوگسلاوی سابق، افغانستان، سوریه و عراق پذیرفته است.**

**سران ائتلاف سه حزبی و دموکرات های راست افراطی سویدن، که در برابر حکومت اقلیت نخست وزیر اولف کریسترسون مدارا می‌کنند، روز جمعه در یک مقاله برای روزنامه "داگنس نیهتر" گفته اند» :از سال ۲۰۱۲، بیش از ۷۷۰ هزار تن از کشورهای خارج از اتحادیه اروپا و منطقه اقتصادی اروپا (EEA) به سویدن مهاجرت کرده اند. رهبران این احزاب با ابراز تأسف از تفکیک، انزوای اجتماعی، بیکاری، خدمات نامناسب آموزشی در مکاتب و فقدان ارزش های مشترک سویدنی نوشتند: «همراه با یک سیاست ادغام که تقریباً هیچ تقاضایی از مهاجران نداشته و هیچ انگیزه‌ای برای ادغام در جامعه ارائه نکرده است، مهاجرت گسترده منجر به ایجاد درز اجتماعی در سویدن شده است«.**

**در ادامه این نوشته آمده است که مشکلات قابل توجهی با افراد متولد خارج از کشور که بیکار هستند و با هزینه های دولتی زندگی می‌کنند، وجود دارد. هنوز آمار مشخصی در این مورد ارائه نشده است.**

**مرتبط :طرح جدید سویدن در مورد اجبار اطلاع رسانی در مورد افراد غیرقانونی**

طبق اظهارات این سیاستمداران، آنها (مقامات) می‌خواهند مزایای اجتماعی را برای شهروندان غیر اتحادیه اروپا و کشورهای منطقه اقتصادی اروپا محدود کنند تا در آینده از مزایای متعددی مانند کمک های اجتمای برای فرزند، هزینه مسکن، مزایای بیکاری، کمک هزینه بیماری و مزایای که برای والدین وجود دارد، برخوردار نشوند. علاوه بر این، این گروه مهاجر باید ملزم به یادگیری زبان سویدنی و جستجوی کار باشند.

از دهه ۱۹۹۰، سویدن، کشوری با ۱۰،۳ میلیون نفر جمعیت، افراد زیادی را از کشورهای بحران زده مانند یوگسلاوی سابق، افغانستان، سوریه، عراق و سومالیا پذیرفته است. ماه گذشته، نخست وزیر کریسترسون خشونت های گسترده اخیر باند ها در سویدن را به «سیاست غیرمسئولانه مهاجرت و ادغام ناموفق» نسبت داد.

مرگ دو هوادار سویدنی فوتبال در ابتدای هفته در حمله ای با انگیزه اسلام گرایانه در بروکسل نیز بحث هایی را برانگیخت. متهم که یک تونسی است، علاوه بر بلجیم، در ناروی، سویدن و ایتالیا نیز درخواست پناهندگی ناموفق داده بود، اما اخراج نشد .

## آلمان: میزان مهاجرت در ماه سپتمبر از ۲۰۱۶ تا به حال بی‌سابقه بوده است

مهاجرنیوز




شمار مهاجرانی که در ماه سپتمبر به صورت غیراصولی وارد آلمان شدند در طول هفت سال گذشته بی سابقه بوده است. نانسی فیزر وزیر داخله آلمان برای افزایش اخراج مهاجران مسوده یک قانون را آماده کرده است .

داده های نشر شده در روز شنبه نشان داد که شمار مهاجران غیراصولی در ماه سپتمبر در طول هفت سال گذشته بی‌سابقه بوده است.

در این ماه حدود ۲۱ هزار تن به صورت غیرقانونی وارد کشور شدند که این رقم از ماه فبروری سال ۲۰۱۶ تا به حال هیچگاه اینقدر بلند نبوده است. در آن زمان حدود ۲۵ هزار و ۶۵۰ تن به آلمان آمدند.

موارد ورود غیراصولی به آلمان در طول ماه های گذشته به صورت دائمی افزایش یافته است. براین اساس بین ماه های جنوری و سپتمبر ۲۰۲۳ حدود ۹۲ هزار و ۱۰۰ تن وارد آلمان شدند. ارقام امسال از آمار سال گذشته (حدود ۹۲ هزار تن) و از سال ۲۰۲۱ (حدود ۵۷ هزار و ۶۰۰ تن) فراتر رفته است.

مسوده قانون اخراج روز چهارشنبه به کابینه ارائه می‌شود

روزنامه آلمانی «راینیشه پُست» روز دوشنبه ۲۳ اکتوبر گزارش داد که نانسی فیزر وزیر داخله آلمان فدرال می‌خواهد روز چهارشنبه پیش نویس این قانون را به کابینه ارائه کند. در این مسوده اقداماتی برای اخراج کارآمدتر افراد در نظر گرفته شده است.

نانسی فیزر وزیر داخله آلمان در یک کنفرانس خبری. عکس: پکچرالیانس

بیشتر بخوانید :<u>افزایش رقم پناهجویان؛ تصمیم آلمان برای کنترول مرزهای مشترک با سه کشور همسایه</u>

در این پیش نویس راه هایی برای تسریع و افزایش اخراج معرفی شده است. فیزر به خصوص بر روی اخراج افرادی تاکید دارد که خطرناک به شمار می‌آیند، مانند قاچاقبران و خلافکاران.

همچنین برای اطمینان از این که اخراج در آخرین لحظات ناکام نمی‌ماند، اقدامات مشخصی در این مسوده شامل شده است.

این قانون که فردا به کابینه ارائه می‌شود، به پولیس این اختیار را می‌دهد که به غیر از اتاق خواب فرد ملزم به اخراج، وارد اتاق های دیگر نیز بشود، در صورتی که این شخص در اقامتگاه های مشترک سکونت داشته باشد.

فیزر گفت: «این اقدامات لازم است تا بتوانیم به همه افرادی که از جنگ و ترور به این جا پناه جسته اند، مانند همیشه به خوبی رسیدگی کنیم.» وزیر داخله آلمان افزود که میزان اخراج های انجام شده در سال روان نسبت به سال گذشته ۲۷ درصد افزایش یافته است. اما او بر این پافشاری کرد که این میزان باید به صورت قابل توجهی افزایش یابد.

در مسوده این قانون به پولیس و نهادهای دولتی برای اجرای این اقدامات اختیارات بیشتری داده شده است و دوره زمانی بازداشت یک فرد قبل از اخراج از ۱۰ به ۲۸ روز افزایش داده شده است تا نهادها فرصت بیشتری برای انجام این کار داشته باشند.

مسوده فیزر نخست به تاریخ ۱۱ اکتوبر به کابینه معرفی شد.

اتحادیه پولیس آلمان گفت که اگر قرار باشد پلان وزیر داخله آلمان به صورت واقع بینانه به اجرا درآید، به «نیروهای بیشتری» نیاز است. در غیر این صورت به گفته یوخن کوپلکه، رئیس این اتحادیه «فشار غیرقابل تصوری» بر پولیس وارد خواهد شد.



**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook***: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*




**حامیان پناهجویان مدت ها است که از آلمان می‌خواهند اخراج به مناطق بحران زده را متوقف کند. عکس: پکچرالیانس**

**بیشتر بخوانید :رقم درخواست‌های پناهندگی امسال در اتحادیه اروپا بیشتر از بحران مهاجرت در سال ۲۰۱۶ بوده است**

**شولتس: «ما باید بیشتر اخراج کنیم «**

**اولاف شولتس، صدراعظم آلمان در مصاحبه ای با هفته نامه خبری «شپیگل» از پلان فیزر تمجید کرد. او گفت: «ما بالاخره باید در مقیاس بزرگ اشخاصی را که حق اقامت در آلمان ندارند، اخراج کنیم.» شولتس افزود: «ما باید بیشتر و سریع تر اخراج کنیم«.**

**اما باید دید که حزب سوسیال دموکرات آلمان «اس پی دی» که شولتس نیز عضویت آن را دارد، چگونه نسبت به این مسوده واکنش نشان می‌دهد.**

**میزان اخراج در نیمه نخست سال در مقایسه با همین دوره در سال ۲۰۲۲ افزایش یافته است. بین ماه های جنوری و جون ۲۰۲۳ حدود ۷ هزار و ۸۶۱ تن از آلمان اخراج شدند. حدود ۱۶۶۰ تن از آن ها زنان و حدود ۱۳۷۰ تن از آن ها افراد خوردسال بودند.**

## وزیر داخله آلمان: پناهجویان رد شده سریعتر اخراج خواهند شد

دویچه وله

**وزیر داخله آلمان فدرال اعلام کرد که تصمیم در مورد اخراج پناهجویان رد شده سریعتر اتخاذ خواهد شد. او گفته است کسانی که حق ماندن در آلمان را ندارند، باید این کشور را ترک کنند.**



**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook***: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*

نانسی فئزر، وزیر داخله آلمان فدرال روز دوشنبه به روزنامه آلمانی «راینیشه پست «گفت که بسته قوانین در مورد اخراج پناهجویان رد شده قرار است به روز چهارشنبه از سوی کابینه فدرال تصویب شود.

یک سخنگوی حکومت آلمان تأکید کرده است که برای پذیرش پناهجویان رد شده از سوی کشورهای مبداء شان، به موافقت این کشورها نیاز است و کار فشرده در این زمینه صورت خواهد گرفت.

فئزر به روزنامه نامبرده گفته است: «هر کسی که حق ماندن در آلمان را ندارد، باید کشور ما را ترک کند.» او افزوده است که این امر «ضروری» است تا از کسانی که به دلیل جنگ و ترور به آلمان پناه آورده اند، به خوبی مراقبت شده بتواند. به قول فیزر تنها ۱،۱ میلیون آواره جنگی از اوکراایین به آلمان پناه آورده اند

وزیر داخله آلمان فدرال تأکید کرده است که در سال روان میلادی شمار کسانی که به کشورهای شان بازگردانده شده اند، در مقایسه با سال گذشته، ۲۷ درصد بیشتر بوده است. او افزوده است: «با آنهم ما باید مقرراتی را درنظر بگیریم که با آن بتوانیم قوانین خود را منسجم تر و با سرعت بیشتری عملی سازیم«.




فئزر یادآور شده است که بسته قوانین پیشنهادی وی در مورد بازگرداندن پناهجویان رد شده، شامل «مجموعه ای از اقدامات محدود کننده» است، که اخراج و بازگرداندن سریعتر مجرمان و افراد خطرساز را نیز در بر دارد

در این بسته قوانین، که فئزر پیش نویس آن را به تاریخ ۱۱ اکتوبر امسال ارائه کرده بود، از جمله گسترش صلاحیت‌های مقامات و همچنان پولیس را در اجرای بازگشت پناهجویان رده شده و جست و جوی اقامتگاه ها برای یافتن افرادی که باید اخراج شوند، در نظر گرفته شده است. همچنان حد اکثر مدت «بازداشت برای اخراج» باید از ۱۰ روز به ۲۸ روز افزایش یابد.